دستروا کمن په سترنامه

هلمند

اونیزه

۳۴

هلمندد اطلاعاتواوفرهنگ ریاست

چهارشنبه

۱۴۴۳هـ ق ربیع الثاني ۲۶

۱۴۰۰هـ ل کال دلیندی ۱۰ مه

دتأسیس کال ۱۳۳۳هـ ل

# د (۵۰۰) جګړه ځپلو او بې وزله کورنیو سره نغدي مرسته وسوه.




نېټه: ۱۴۴۳/۴/۲۰ هـ ق – ۱۴۰۰/۹/۴ هـ ل

په تېرو دوه لسیزو کي دسنګین ولسوالۍ وګړو ته د جګړو له کبله ډېر مالي او ځاني زیانونه اوښتي، د تېر حکومت پر مهال د دې ولسوالۍ اوسېدونکي د پوهني، روغتیا، پرمختیا یي اړینو برخو کي له هر ډول خدماتو بې برخي وه، چي لامل یې څلورم مخ...

# په تاریخي کلاګانو کي د خپل سریو ابادیو مخه ونیول سوه.





نېټه : ۱۴۴۳ /۴/۲۴ هـ ق – ۱۴۰۰/۹/۸ هـ ل

د هلمند ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست لخوا په کارېز او بُست کلا سیمو کي په هغه تاریخي آبدو کي چي د خلکو له لوري پکښې خپل سري کارونه او ابادۍ کېدلي مخه یې ونیول سوه. د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست اړوند څلورم مخ ....

## د (۵۰۰) جګړه ځپلو او بې وزله کورنیو سره نغدي مرسته وسوه.

جګړې او ناامني بلل کېږي. نن لومړی ځل دی چې د ژغورنې نړیوالي کمېټې لخوا د یادي ولسوالۍ د اوسېدونکو سره نغدي مرسته کېږي. په دغه ولسوالۍ کې د ژغورنې نړیوالي کمېټې لخوا د(۵۰۰)جګړه ځپلو او غریبو کورنیو سره نغدي مرسته وسوه، چې هري کورنۍ ته( ۲۶۰۰۰ ) زره افغانۍ ورکول سوې، ترڅو په یادو نغدي پیسو خپلو کورنیو ته ژمني اړین توکي پرې واخلي او خپل اړتیاوي پرې پوره کړي. پر همدې مهال هغه کسانو چې یاده مرسته یې تر لاسه کړه باختر آژانس ته وویل: ډېر خوښ یو، چې نن راسره د نغدي پیسو مرسته وسوه. دوی وایي: د ژمي په راتلو سره یې دا نغدي پیسې تر ډېره اړتیاوي ور پوره کولای سي دوی غوښتنه کول ، چې خیریه مؤسسې او اسلامي امارت دي د دوی سره نوري بشري او اړیني مرستي هم وکړي. دغه راز یو تن ځوان میرزا محمد چې د جګړو پر مهال یې خپل دواړي پښې له لاسه ورکړي او د مرستي ځای ته خپل ورور پر موټرسایکل راوستلی ؤ وویل: د کار کولو توان نه لرم او د کورنۍ ټول مشکلات مي غاړي ته لویدلي، هغوی نفقه غواړي، خو په خبره یې چې نن ورسره سوی نغدي مرسته به یې د کورنۍ اړتیاوي د دوو میاشتو لپاره ور پوره کړي . نوموړي غوښتنه کول ،چې دولت دي دی هیڅ وخت له پامه نه غورځوي، ځکه د دوی ژوند سخت او د کار وبار څوک نه لري . د سنګین ولسوالۍ د امنیه قوماندانۍ مرستیال مولـوي عتیق الله (صداقت) د باختر آژانس د خبریال ګل محمد (غورځنګ) سره د خبرو پر مهال وویل: د یادي مرستي سروې مخکي په شفافه توګه تره سره سوې، چې په وینا یې د سروې ټیم جومات پر جومات او کور پر کور ګرځېدل او هغه کورنۍ چې مستحقي وې ، د جګړو له امله یې کورونه نړیدلي وه اویا هم له خپلو مېنو بې ځایه سوي وې په نښه او سروې کړي.سنګین د هلمند ولایت په شمال کې پر ته دوهمه درجه ولسوالي ده، چې له مرکز لښکرګاه څخه په ۹۰ کیلومترۍ کې موقیعت لري.د یادوني وړه ده، چې د دې ولسوالۍ د اوسېدونکو سره د اسلامي امارت په راتګ سره دا لومړی ځل دی، چې د دې ولسوالۍ له وګړو سره د یو خیره بنسټ لخوا مرسته کېږي.

## په تاریخي کلاګانو کې د خپل سریو آبادیو مخه ونیول سوه.

د تـاریخي میراثونـو د سـاتني مـدیر مولـوی حمـدالله (مـدثر) وایـي: دا هغـه تـاریخي کلاګـاني دي چـي پـه اړونـد سیمو کـي یـي د ځـایي خلکو لخـوا پکښـې کینـدني او ابـادۍ کېـدلې چـي ددوی لخـوا یـې مخه ونیول سوه. د یادو کیندنو دجرم پـه تـړاو درې تنـه هـم ګرفتـار او د قـانون منګولـو تـه وسپارل سـوي، چـي دغـه کسـانو بـه د شـپې لخـوا د کـارېزاو بُسـت کـلا سیمو کـي د تـاریخي کلاګـانو پـه منځ کـي کینـدني کـولې او د لرغونـو توکـو پلټنـه بـه یـې کـول. نومـوړي وویل: تر دې وروسته به هر هغه کس چې پـه تـاریخي میراثونـو کـي ابادي کوي او یا یي مځکي غصبوي د اسلامي امـارت لـه لـوري بـه ورسـره قـانوني چلنـد کېـږي. هغـه همـداراز زیاتـه کـړه؛ چـي هلمنـد کي به دټولو تـاریخي کلاګـانو سـاتني تـه ځـانګړې پاملرنـه کېـږي او د ساتني په برخه کي به یې پـوره هڅـه کـوي. هغـه لـه عـامو ولسـونو هـم هیلـه وکـړه؛ چـي د تـاریخي میراثونـو او ابـدو پـه سـاتنه کـي د اسـلامي امـارت سـره همکـاري وکـړئ، ترڅوتـاریخي کلاګـاني او میراثونـه لـه غصـب او ورانېدوڅخـه وژغـورل سـي. د یـادوني وړده، چي د اسـلامي امـارت پـه راتـګ سـره د تـاریخي کلاګـانو سـاتني تـه پاملرنـه زیاتـه سـوې او شـاوخوا یـوه میاشـت وړانـدي هـم د لښـکرګاه ښـار اړونـد د زړې کـلا پـه سیمه کـي یـو شـمېر هغـه کـورنۍ چـي د مځکني حکومت پرمهـال پکـي اوسېدلې د اسـلامي امـارت پـه راتـګ سره د تاریخي کلاګانوڅخه ایستل سوي.

کتن پلاوی :
ګل محمد (غورځنګ) اومحمدهاشم
دامتیاز خاونـــــد : داطلاعـاتو اوفرهنګ ریاست
مسوول مدیر: سیدمحمد (حیرت)
داړیکي شمېرې :
(۰۷۰۰۹۰۰۵۵٦)
(۰۷٤۷۰٥۹۹٥٦)
Helmandjareda1333@gmail.com
انځورونه: محمد محسن (عمري)
چاپ: نشنل چاپخانه:
پته : دلښکرګـــــــــاه ښار

# سرمقاله:

## زموږ ټولنیز مسؤلیتونه !

لومړي: خوهروخت چي موږ دانسان تعریف وړاندي کوو نودا وایو چي انسان یوټولنیزموجود دی چي باید په ټولنیزډول یودبل په مرسته یوځای دژوند چاري پر مخ یوسي، پرهمدې بنسټ د بېلابېلو انساني ګروپونو یو ځای کېدنه چي په یوه ځانګړي قلمرو یا سیمه کي ګډ ژوند کوي، ټولنه بللای سو، خو ټولنه بیا موږ پردوه ډوله وېشلای سوو (فاسده یا خرابه ټولنه) ( پاکه او سالمه ټولنه) داچي دلته زموږ ددې مقالې لمنه دومره پراخه نه ده چي دټولني دواړه اړخونه تربحث لاندي ونیسو نوفقط دلته یوازي دسالمي ټولني دځانګړتیاوو اوزموږد مسؤلیتونوڅخه په لنډ ډول یادونه کوو.

دوهم: دیوې سالمي ټولني ځانګړتیاوي:انسان الله (ج) داسي یومخلوق پیداکړی دی چي په طبیعت کي یې مدنیت اخښل سوی، په دې معنا چي انسانان دخپلوهم نوعانوسره د خپل منځي او متقابلو اړیکو او د دوه اړخیزه مرستو پر بنسټ په اسانی سره دژوند چاري پر مخ یوسي بلاخره په نتیجه کي یې یوسالمه ټولنه رامنځته کیږي. د سالمي ټولني یوه لویه ځانګړتیا دا ده چي غړي یې په پوهه، غوره اخلاقو ، یو بل ته په دوه اړخیز درناوي او یو د بل د اړتیاوو د پوره کولو په مفکوره سمبال وي،که دیوې ټولني وګړي دغه معیارونه ونلري بیا نویوه سالمه ټولنه هم نه سي جوړېدلای.

دریم: ځاني مسئولیتونه : انسان دماشومتوب په پړاو کي دهرډول فردي اوټولنیزمسؤلیت څخه بیغمه وی خوکله چي دلوی والي مرحلې ته داخل سي بیانوبېلابیل مسئولیتونه وردغاړي کیږي لکه دځان په وړاندي مسئولیت، دالله (ج) په وړاندي مسئولیت، دکورنی په وړاندي مسئولیت او دټولني په وړاندي مسئولیت خوپه حقیقت یاد مسؤلیتونه په دریوکټګوریو وېشلای سو. الف:ـ (اخلاقي تهذیب یا داخلاقوسموونه) ب:ـ (تدابیري چاري یا دکورسمبالښت. ج :ـ (مدني او سیاسي فعالیت یا ټولیز نزاکتونه) باید ووایو چي داخلاقو تهذیب ځاني مسئولیت دي او پاته نوردوه مدني اوټولنیز مسؤلیتونه ګڼل کیږي.

څلورم: مدني اوټولنیز مسؤلیتونه: د انساني افرادو ترمنځ د همکاری اودوه اړخیزواړتیاوو دپوره کولو اړیکه شتون لري، ځکه که ښځه نه وي نارینه کامل نه دی اوکه نارینه نه وي ښځه هم نیمګړې ده، که پلاراو مور نه وي نو اولاد به څوک نړۍ ته راوړي اوکه اولاد نه وي بیا انساني لړۍ دوام نسي موندلای .خو دټولنیز ژوند دبقا لپاره اړینه ده چي په ټولیز ډول ځیني فعالیتونه ترسره کړو اویو شمېر جوړښتونه باید ولرو اوهغه وساتو دبیلګې په توګه په ټولنه کي دنورو قومي اوټولنیزو جوړښتونو ترڅنګ باید دعامه نظم د تأمین لپاره یواسلامي سیاسي نظام ولرو اودهغه نظام ننګه اوملاتړوکړو ترڅوپه ټولنه کي دګډوډۍ مخه ونیول سي او ټولنیزعدالت تأمین سي.

# هلمند والي دېشو ولسوالی ته سفر وکړ.

نېټه : ۱۴۴۳/۴/۲۲ هـ ق-۱۴۰۰/۹/۶هـ ل

د هلمند والي مولوي عبدالاحد صاحب د جنوبي ولسوالیو د نظارت او څارني په پیل سوي لړۍ کي د دېشو ولسوالی ته سفر وکړ او هلته یې د دیني عالمانو، مجاهدینو مخورو او متنفذینو سره په یوه جوړه سوې غونډه کي ګډون وکړ. غونډه د معمول سره سم د کلام الله مجید د څو مبارکو ایاتونو په تلاوت سره پیل سوه. ورپسي د هلمند والي طالب مولوي صاحب د غونډې برخوالو ته په خطاب کې وویل: چې ستاسو جهاد، قربانۍ او خدمتونه د هېرېدلو نه دي، موږ به تل ستاسو منندوی او شکر ګذاره یو، تاسو په ډېرو سختو حالاتو کي زموږ سره همکاري کړې ده او موږ مو یوازي نه یو پرې ایښې نوموړي دغه راز د خپله اړخه هم د هر راز همکارۍ ډاډ ورکړ .پر ورته مهال هلمند والي له دیني عالمانو څخه غوښتنه وکړه، چې په خپل سیمه کې پوهني ته وده ورکړئ ښوونځي او مدارس فعال کړئ او دخلګو د اصلاح او عقیدوي جوړښت لپاره بشپړه مبارزه وکړئ. ښاغلي والي د دېشو د خلګو ستونزي او وړاندیزونه واورېدل او تر ډېره حده یې د خلګو مشکلاتو ته رسیدګي وکړه . هغه د یو شمېر اړمنو او مستحقو خلګو سره نقدي مرسته هم ترسره کړه. دا په داسي حال کي ده ،چي هلمند والي د تېري یوې میاشتي راهیسي د هلمند ولایت ټولو ولسوالیو ته جلا – جلا د څارني او ارزوني په موخه سفرونه پیل کړي او د خپلو لیدنو په ترڅ کي یې د ولسوالیو د اوسېدونکو ستونزي او غوښتني هم اورېدلي او د حل په موخه یې ډاډ ورکړی.

## د یوې هدیرې د ساتنې چارې بشپړ سوې.



نېټه:۱۴۴۳/۴/۲۳ هـ ق– ۱۴۰۰/۹/۷ هـ ق

دهلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د ښاروالۍ له خوا د آمیر داود آغا ارامګاه (زیارت) ته څېرمه هدیرې د حفاظت او ساتنې په موخه درې سوه شل متره په اوږدوالي او یونیم متر په جګوالي داحاطې دېوال په پاخه او اساسي ډول جوړ او د جوړېدلو چارې یې بشپړ سوې. یاده سیمه چې مخکې د تېر نظام پر مهال غصب او زیانمنه سوې وه، اوس د اسلامي امارت په راتګ سره د ګرشک ښاروالۍ له خواد یادي هدیرې د ساتنې په موخه کوکه والا هټۍ والو ته بل ځای بدیل ورکول سو او یاده ساحه د کوچنیوهټیو له شتون څخه پاکه اوله غصب څخه تصفیه او د دېوال په را ګرزولو سره محفوظ سوه. د یادي ښاروالۍ مسئولین وایي چې دوی به د بیارغاونې په برخه کې ورته کارونو ته نور هم دوام ورکوي. د یادوني وړ ده ،چې د هلمند ولایت په نورو سیمو او ولسوالیو کې هم ګڼې هدیرې او مقبرې د ساتنې او نه پاملرنې له امله د له منځه تلو او غصب له ګواښ سره مخ دي. خو داسلامي امارت مسوولین ډاډورکوي، چې ټول عام المنفعه ځایونه او هدیرې به د غاصبینو د منګولوخلاصوي او ساتنه به یې کوي

## هلمند کې UNHCR د ۲۲۳ اړمنو او بې وزلو کورنیو سره نغدي مرسته وکړه



نېټه: ۱۴۴۳/۴/۲۵هـ ق – ۱۴۰۰/۹/۱۰هـ ل

په دغه ولایت کې د نورو مرستو په دوام د( UNHCR )مؤسسې په مالي ملاتړ د( HRDA ) په تطبیق او د هلمند ولایت د مهاجرینو ریاست په همکارۍ یو ځل بیا د مرکز او ولسوالیو څه باندې (۲۲۳ ) جګړه ځپلو، اړمنو او بې وزلو کورنیو سره د (۳۷۵) ډالرو ، چې معادل یې (۳۶۰۰۰ ) زره افغانۍ کېږي نغدي مرسته وسول. د یادو کورنیو سره د نغدي پیسو مرسته په دې موخه سوې، څو په دغه نغدي پیسو کاري زمینې برابري کړي او یا هم ژمني توکي پرې واخلي. د هلمند ولایت د کډوالو او بیرته راستنېدونکو چارو ریاست رئیس مولوي الله داد (انقیادي) د باختر آژانس د خبریال ګل محمد غورځنګ سره د خبرو پر مهال وویل: دا هغه بې ځایه سوې کورنۍ دي چې اقتصادي ستونزې لري ،د جګړو پر مهال یې کورونه نړیدلي او یا هم زیاتي بې وزلي وي. نوموړی وایي،د یادو کورنیو سروې په شفافه توګه ترسره سوې او ټولي مستحقي کورنۍ دي،چې په وینا یې په راتلونکي کي به هم چاته اجازه ورنه کړي ، چې غیرو مستحقو کورنیو ته مرستي ور کړي. د ګل محمد او عبدالسلام په نوم دوه تنه چې نن یې نغدي مرسته ترلاسه کړه د خوښۍ تر ځنګ وویل: دا پیسې به یې تر ډېره اړتیاوي ورپوره کړي او زیاته یې کړه چې دوی به په دې پیسو اوړه ،غوړي او نور ژمني اړین توکي رانیسي .نوموړو غوښتنه کول،چې اسلامي امارت او نور خیریه بنسټونه دي نوري مرستي هم راسره وکړي ،ځکه د ژمي په راتلو سره به یې اړتیا وي نوري هم زیاتي سي. دا په داسي حال کي ده ، چې یوه اونۍ وړاندي هم په سنګین ولسوالۍ کي د ژغورني نړیوالي کمېټي لخوا د ۵۰۰ جګړه ځپلو او غریبو کورنیو سره د ۲۶۰۰۰ زره افغانیو نغدي مرسته وسول.